**عبدالشکور رشاد**

# نواب محسن الملک

## یعقوبعلی خان بامیزی

یعقوبعلی خان بامیزی (۱) پهخزانهعامره (۱۰۴مخ) صولت افغانی (۲۴۹مخ) سراج التواریخ (۲۲مخ) او تاریخ هندوستان (نهم ټوك ۳۱۷مخ) کښې د احمدشاهی دورې د اشرف الوزراء شاه ولیخان با میزی ورور بلل شوی دی او زما پهخیال د دی وروستیو مولفانو ماءخذ ، آزاد بلگرامی خزانه عامره ده چهپه ۱۱۷۶هـ ق کال بشپړه شوې ده . ښاغلی عزیزالدین پوپلزی هم په تیمورشاه درانی (۲۵۰مخ) او درة الزمان (۲۲۹مخ) کښې ددوی په بله تللی دی .

مګر په قلمی تاریخ حسین شاهی ( د ۱۲۱۳هـ ق کال تالیف ) دولت درانیه (۳۱ مخ) ګلستان رحمت (۱۰۴ مخ) حیات حافظ رحمت خان (۷۹ مخ) تاریخ سلطانی (۱۳۷مخ) او Ahmad Shah durrani (۱۵۵مخ) کښې د اشرف الوزراء تربور او همقومه بلل شوی دی د شاه عالم نامې مؤلف غلام علی خان چه د یعقوب علی خان معاصری دی شاه عالم نامې په ۱۷۰ مخ کښې لیکلی دی چه د شاه ولیخان او یعقوب علی خان تر منځ د دوستی او قرابت رګی و د اشرف الوزراء او یعقوب علی خان تر منځ د صرف همقومی نور مؤیدات هم سته مثلاً په احمدشاه

---

(۱) په خزانهٔ عامره او د هندوستان په نهم ټوك کښې یعقوب زی کښلی دی چه د تأمل ور ده

درانی (۱۵۵-۲۳۲مخونو) کښې زیاته سو ېده چه یعقوب علیخان په هندوستان کښې له ډیره وخته میشت و او د یوه اعزازی شپږ زری منصبدار حیثیت یې درلود په حیات حافظ رحمت خان (۸۹مخ) کښې یې د استوګنې ځای (روهیلکهنډ) ضبط دی او په تاریخ حسین شا هی کښې چه مؤ لف یې د یعقوب علی خان معاصر او د (روهیلکنډ) د شاو خواوسیدونکی دی واضحه شویده چه «یعقوبعلیخان له ځوینتو شخه په شاهجهان پور کښې اوسیدشاهجهان پور د ډهلی ختیزلورته یو نیم سل میله لیری د ګنګا پر غاړه واقع دی.»

ددولت درانیه په ۳۱ مخ کښې کټ مټ د دغو کلماتو ترجمه په ار دو ژبه لیکلی ده او په تاریخ سلطانی (۱۳۷مخ) کښې هم کټ مټ دغه ذکر سته یعنی سلطان محمد خان بار کزی هم یعقوب علی خان د شاهجهان پور اوسید ونکی بللی دی. د یعقوبعلی خان بامیزی لقب په دولت درانیه ۳۱ مخ او حسین شاهی کښې نواب محسن الملك(۱) اوپه شاه عالم نامه (۱۷۰مخ) کښې معتمدالدوله ضبط دی.

د یعقوب علی خان نوم د ړومبی پلا له پاره د ۱۱۷۰ هـ ق کال په واقعاتو کښې لیدل کیږی. ګهنډا سنګه داحمد شاه درانی په ۱۵۵مخ کښې لیکلی دی:

د ۱۱۷۰ هـ ق کال د لو مړی خور په پای کښې چه د لو ی احمد شاه با با فوجونه له لا هو ره شخه مخ پر ډهلی ووتل نا سیاله غازی الدین د ډهلی وزیر چه په ځان کښې د جنګ وس نه لیدی وار خطا شو او نجیب الدوله چه بې هم له مرستې شخه ښه وکړله نو بې مجبوراً له احمد شاه باباسره په سیاسی مفاهمه لاس پوری کړ. او دې غرض له پاره یې ددوهمی خورپه شپږمه ورځ (۲۹دسمبر ۱۷۵۶ع) یعقوب علی خان د ډهلی پاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۷ - ۱۱۷۳ هـ ق) ته ورووست په دې باریابی کښې یو مشهور فقیر (شاه فنا) هم ور سره مل کړه

---

(۱) د «د احمد شاه بابا» په ۲۶۰ مخ کښې چه محسن الملك او یعقوب علیخان دوه بیل سړی بللل شوی دی د تأمل ووخبره ده.

شوی و ددغو دوو کسانو په خوله لوی احمدشاه بابا ته ددوهم عالمگیر له خوا (۱) داپیغام وراستول شو: «که ته د ډهلی له راتګه صرف نظر وکړی او بیرته خپل وطن ته ستون شی ستا دلښکر دمصارفو له پاره به یوه اندازه روپی اوزوی ته به دی د دوهم عالمګیر پاچا لور درکړله شی» (۲)

یعقوب علیخان دلوی احمد شاه بابا حضورته دډهلی دربارد وزیر په امرد دوهم عالمګیر جعلی پیغام ورساوه د دوهمی خور په شپږ و یشتمه ورځ (۰۸ جنوری ۱۷۵۷ ع) چه لوی احمدشاه بابا پخپله خومیله دهٔ باډلی» شمال ته دهٔ سونی پت» نومی ځای (۳) په شاوخوا کښی اړولی و - له دغه ځایه څخه یی دډهلی دوزیر غازی الدین ستاځی یعقوب علیخان اواغارضا (٤) دډهلی لورته رخصت کړل اوددوی په لاس یی داپیغام وروليږه :

«زه دډهلی دپاچا دوهم عالمګیر او وزیر غازی الدین دلیدلو له پاره شخصاً ډهلی ته درغلی یم اوډهلته به دصلحی دشرطونو په باب سره وږغیږو» (٥)

د ۱۱۷۰ هـ ق کال ددریمی خوړ په اوومه (ورځ ۲۸ جنوری ۱۷۵۷ ع) لوی احمد شاه بابا ډهلی ښارته ورننووت هلته د لوی احمدشاه بابا اوسیدلو په موده کښی یعقوب علی خان درو هیلکهنو د نائب وا کمن حافظ رحمت خان بریخی له خوا دسفیر په توګه دلوی احمد شاه بابا حضورته واستاوه شو - دشاه ولیخان په ذریعه نوموړی دلوی احمده شاه بابا په حضور مشرف اود حافظ رحمت خان

(۱) دوهم عالمګیر لوی احمد شاه بابا ته خطو نه لیږلی و چه ما د هندو پروره وزیر غازی الدین له لاسه خلاص کړه زه ده په لاس کښی بندی یم (وګوری د احمدشاه درانی ۱۵۰ مخ او درو هیله پښتانه ۲۹۰ مخ) دلته یی فقط د خپل وزیر د تیر ایستلو له پاره مجبوراً د دغه پیغام لیږل منلی دی.

(۲) تاریخ عالمګیر ثانی (۳٦ A - B) مخونه.

(۳)- سونی پت له ډهلی څخه شل کروه لیری دی.

(٤)- اغارضا یبپلاتر یعقوب علی خان دمخه دډهلی دوزیر له خوا دلوی احمدشاه بابا حضورته داستاځی په حیث لیږل شوی و- دایی دوهم پلاور تګه اورخصتیدل ؤ.

(٥)- احمدشاه درانی ۱۵۹ مخ (دتاریخ عالمګیر ثانی د ۹۲ مخ په حواله).

داطاعت پیغام او سوغاتونه یی دباچا حضور ته وړاندی کړل . (۱)

ترڅوچه لوی احمد شاه بابا په هندوستان کښې ؤ یعقوبعلیخان دحافظ رحمت خان دسفیر اوو کیل په حیث په احمد شاهی کیمپ کښې حاضرؤ د ۱۱۷۰ هـ ق کال درجب به شپاړ سمه ورځ ( ٦ ـ ۱ پریل ۱۷۵۷ ع ) چه لوی احمد شاه بابا پهلی څخه مخ پر کندهار لیږدیده ، خوورځی پخوابی یعقوب علی خان حضور ته وروغوښت دده په لاس یی حافظ رحمت خان بریخی ته دخپل رضائیت پیغام ورولیږه اورو هیلکښو ته یې رخصت کړ (۲) دحافظ رحمت خان زوی مستجاب خان پخپل اثر گلستان رحمت کښې داهم زیاته کړی ده: چه لوی احمدشاه بابا حافظ رحمت خان ته داهم لیکلی وچه دجنگباز خان مرسته وکړی(۳) جنگباز خان د ۱۱۷۰ هـ ق کال دځلرمی خورپه اوه ویشتمه ورځ ( ۱۹ مارچ ۱۷۵۷ ع ) دد رو ز رو سپروسره دنواب احمد خان په ملکری اوملاتړ دبنگال دنیولوله پاره گمارل شوی و .

د ۱۱۷۳ هـ ق کال دځلرمی خورپه دوهمه یادریمه ورځ (۲۱ جنوری ۱۷٦۰ ع) چه لوی احمد شاه بابا دوهم پلا ډهلی له مرهټو څخه دنیواوخوورځی وروسته یې دسورج مل چاټ دځپلو په نیامت دبهرتپوراو ډیگ لور ته لښکر وخوځاوه ـ له ډهلی څخه تروتلو پخوایی دډهلی دښار حکومت اوستنه یعقوب علی خان ته وسپارله(٤) اودوه زره عسکر یی ورسره پریښوول (٥) .

دلوی احمد شاه بابا فوجونه چه په کول (اوسنی علی گړ هـ) اوجالیسر کښې دجاټانو په ځپلو اخته وپه دغه وخت کښې (د۱۱۷۳ هـ ق کال میانی په ورستی ورځ = د۱۷٦۰ دجولایی ۱٤) دمرهټو هغه درونه لښکر چه دپیشوادزوی بسواس راو

(۱) حیات حافظ رحمت خان ۷۹ مخ ـ دولت درانیه ۳۱ مخ ـ حسین شاهی تاریخ.
(۲) ـ حیات حافظ رحمت خان ۷۹ مخ .
(۳) گلستان رحمت ۱۰٤ ـ ۱۰۵ مخونه .
(٤)- دولت درانیه ۳۱ مخ احمد شاه درانی ۲۳۲ مخ .
(٥) ـ احمد شاه بابا ۲٦۰ مخ .

اوسداشیوبهاو پەمشر توب دلوی احمدشاهبابا مقابلې ته لەد کنەر الیزل شوی و لەچمبل سیند څخه شل میله شمالي لورته راوزسید ،سورج مل جاټ اوملهارراوهولکرېي هم له خپلو فوجو سرەمله شوی وولە دغه ځایه څخه دسدا شیوبهاوپەحکم چه یتولو مر هټه فو جو سپهسا لار و یو تکړه فو ځ د ملهار ر او هو لکر ـ جنکوجې او بلونت ګنیش مهندال تر مشر تابه لاندې ډهلي دنیولو له پاره مخ بر ډهلي وخوځید نا سیاله غازی الدين او سو رج مل چاټ د دې تکړه فوج سره د لار بنودو نکو په حیث ملګری کړه شوی وو (۱) ـ د افوج د۱۱۷۳ه ق کال دلوی اختر دمیاشتې اتمه (۲) یا په نهمه (۳) ورځ ډهلي ته و ر سید او په جویلي سعدالله خان کښی یې واړول ـ ډهلي احمدشاهي نائب الحکومه نواب محسن الملك یعقوب علیخان بامیزی سره ددې چه نه یې جنګی میړونه د دغه مها جم فوج شلمه برخه کیدله او نه یې جنګی اسبابونه مرهټو له جنګی اسبابو نو سره سیالي کولای شوه خو بیایې هم د پښتني غیرت په حکم مقا بله و کړه او تیبنته یې نه منله (٤) مګر څه ګټوره نتیجه یې و ر نکړه او ډهلي ښاریې تر ډیره وخته پورې د مرهټو له هجومه څخه ونه ساتلای شو او ددغې ورځې غرمې ته (۲۲جولایی) ډهلي ښار د مر هټو په لاس کښیووت یخبله یعقوب علي خان په لال کلا کښې چه ډهلي د ښار حکومتي کلاوه کلا بند شو . (۵)

داحمد شاه درانی د کتاب (٦) له مخې یې لس ورځې او دشاه عالم نامی (۷) له مخې یې شل ورځې کلا بندی وګالله او دلوی احمدشاه بابا حضورته یې خپل حال ورولیږه (۸) .

(۱) ـ شاه عالم نامه ۷۱ مخ (۲) ـ داحمدشاه درانی ۲٥٤ مخ .
«۳» ـ تاریخ هندوستان ۹ ـ ۱۰ ټوك ۳۰۰ مخ د علیګړه چاپ .
«٤» ـ دولت درانیه ۳۱ مخ . «٥» ـ احمدشاه درانی ۲٤٥ مخ

«٦» احمدشاه درانی ۲٤٥ مخ «۷» ـ شاه عالم نامه ۱۷۱ مخ

«۸» ـ لوی احمد شابابا په دغه وخت کښې په انوپ شهر کښې ؤ او لی و او هلته بی د۱۱۷۳ ه ق دمیاشي څخه د۱۱۷٤ دصفری تر شلمی پورې دبرسات موسم تیر کړ .

غلام علي خان دشاه عالم نامې مولف ليکلي دي چه ددغې کلابندۍ په موده کښې يوه ورځ دريسوه، رهټه سپاهيان دجمناد سيندد لهخواڅخه کمندونو پهوسيله برج اسد ته ور پورته شول او په لال کلاور ننوتل د يعقوب علي خان سپاهيان هغه دري سوه تنه مرهټه سپاهيان چه د اتهيل را و پهمشري ورختلي وهول ووژل او نور مرهټه سپاهيان چه برج اسد ته د ور ختلو په هيله تر کـلا لانـدي ولاړ وو تښتيدل (۱) دجنکو را واء هولکر فوجود خضري دروازې دماتولو ډيار يوست مکر له کلاڅخه ډيښتنود ګوليودلاسه کامياب نهشول- بيا ابراهيم ګاړوي دوی درې توپونه ورته کښيښوول او دڅليوپه ضرب ګولۍ ئې پرلال کلا واو روليږنګ محل ،موتي محل اوديوان خاص ته يې ډير زيانونه ورسول- هرهورځ بهپهدې توګـه جنګ تودو (۲)

ددولت درانيهپه۳۱ مخ کښې ليکلي دي: لوی احمد شاه باباته چه د يعقوبعلي خان دکلابندئ حال ورسيد ـ ده ډير زيا رويوست چه په مرسته يې فوځ وروليږي مکر دجمناطغياني حالت اودبرسات بارانولارنه ورکوله څکه يې نو يعقوبعلي خان ته وليکل چه که مرهټه سمه توګه د راوتلولاردورکړي دد غه وخت د مصلحت داتقاضاده چه روغه و کړي اودډهلي کلامرهټوته وسپاري (۳) يعقوبعليخان هم په دغه شرط روغه و کړه اودجمنا دسيند لهلارې، څخهيې په بيړيو کښې خپل ټول ملګري اوجنګي سامانونه روغ رمې را وايستل اودلوي احمد شاه بابا د کيمپ خواته روان شو(٤). اوپه دې توګه دډهلي لال کلا د ۱۱۷۳ هـ ق کال دلوی اختر دمياشتې پهنولسمه ورځ(۱۲ اګست ۱۷٦۰ع) مرهټوته ورخوشې شوله (۵) په کوم وخت کښې چه دسداشيوبها و فوجونه دلوی احمد شاه بابا مقابلې ته دپانی پت پهډاګ کښې دلوی جنګ له پاره برابرته وو- دمرهټو پيشوا (نانا بالاجی راو) دنربداد

(۱) شاه عالم نامه ۱۷۱ مخ - صولت افغاني ۲٤۹ مخ

(۲)- صولت افغاني ۲٤۹- ۲۵۰ مخونه .

(۳) - دولت درانيه ۳۱- مخ شاه عالم نامه ۱۷۲ مخ احمد شاه دراني ۲٤۵ مخ

(٤)- شاه عالم نامه ۱۷۲ مخ (۵) احمدشاه دراني ۲٤٦ مخ سراج التواريخ ۲۲ مخ .

دسیند پرغاړه دېبولوډ لښکر سره دقوت الظهر په حیث ورته پروت ؤ ـ په پانی پت کښې دمرهټو فوجونو د کلابندی بده ورځ چه پیشواواوریده ، دنربداله سیند څخه مخ پرډهلی راوخوځید ـ د ۱۱۷۴ﻫ ق کال دځلرمی خور په شپږمه ورځ (۱۴جنوری ۱۷۶۱ع) چه په پانی پت کښې مرهټوماتې و کړه او پراته ویشتوزرو تنو باندې یې میندی ئی بوری شولی او لوی احمدشاه بابا چه ترسوبی څو ورځی وروسته ډهلی ته راورسید په دغووختو کښې پیشوانانابالاجی راوله خپلو فوجونو سره دګډالبار په شاوخوا کښې اړولی ؤ ـ اودپانی پت له میدان یا د ډهلی څخه پـه تیښته تللی مرهټه سرداران لکه ملها رراوهولکراو دډهلی مرهټه حاکم پنډت ناروشنکر او نورپرراټول شوی دو .

څوورځې پس د مرهټه ؤیو نماینده چه د با پوجی مهادیو هینګونی» نومید دپیشوااولوی احمد شاه باباترمنځ ،مفاهمی له پاره زیارشروع کړ د احمد شاه بابا له حضوره څخه یعقوب علیخان وګماره شو ـ چه د یوه پاچاهی سناځی په حیث ګوالیارته ولاړشی اود پیشواسره دروغی نقشه جوړه کاندی .

یعقوب علیخان ګوالیارته ولاړ ـ مګرځکه چه پیشوایخپله ناروغه پروت ؤ او نورومرهټه سردارانو له احمد شاه بابا سره د لید لو جرأت نشو کولای نودغه روغه وځنډیدله (۱) اویعقوبعلیخان دلوی احمد شاه بابا حضورته را ستون شو .

د ۱۱۷۴ﻫ ق کال دبرات په دیرلسمه ورځ (۲۰مارچ ۱۷۶۱ع) چه لوی احمد شاه بابا له ډهلی څخه کندهارته ستنیدی ـ یعقوب علیخان یی وګماره چه دمرهټو دنماینده «باپوچی مهادیو هینګونی» سره دپاچاهی سفیرپه حیث د پیشوا پایتخت پونې ته ولاړشی اوعلته له پیشوا سره دروغې په باب وزغیږی (۲) .

په ۱۱۷۵ ﻫ ق چه لوی احمد شاه بابا شپږمه پلا هندوستان ته ولاړاو په لاهور کښې میشتؤ ترخپل تګ پخوایی نجیب الدوله له او دډهلی دد ربار نور لوی افسران خپل حضورته ورغوښتل نواب یعقوبعلی خان هم په دغه ډله کښې د ۱۱۷۵ﻫ ق

---

(۱) ـ احمد شاه درانی ۲۶۱ـ ۱۶۲ مخونه . (۲) ـ احمد شاه درانی ۲۶۳ مخ

دصفری په میاشت کښې له ډهلی څخه لاهورته ورغی اودلوی احمد شاه بابا په حضور مشرف شو(١) اولوی احمد شاه بابا چه دډهلی امیران رخصت کړل د ی هم ډهلی ته ولاړ او له نجیب الدوله سره یې کار کاوه .

په ١١٧٨ ه ق کال چه دبهرتپور راجاسورجمل جاټ د میوات دبلوڅو څخه څو کلا وی ونیولی-اوچاڅه وړته وروسته ویل نویی دډهلی دربارته لاس پسی رااوږد کړاوله نجیب الدوله یو سفزی څخه یی (چه له١١٧٣ه ق کال راهیسی‌یی د ډهلی دپاچهی ټول کارونه‌اجرا کول)دفو جداری‌غوښتنه و کړله- نجیب الدوله دمفاهمی له پاره یعقوب علیخان دډهلی ددربار دستاځی په‌حیث ورولیږه‌او څه سوغاتونه یې هم دسور جمل‌له‌پاره ور کړه چه‌په هغو کښی یوتان چیټ هم و.

دتاریخ هندوستان دنهم ټوك په٣١٧ مخ کښی لیکلی د ی - یعقوب علیخان چه‌له سور جمل سره لو مړی ځل ولیدل او دنجیب الدوله سو غا تو نه یی ورته کښیښول دده‌چه‌سترګی دچیټ پرتان باندی ولګیدی خوښ یی شودستی‌یی خیاط راوغوښت اودځان له‌پاره‌یی له هغه چیټه څخه د کالو جوړولو فرما یش ور کړ اوپه دې خبرو یی‌ځان دومره مشغول کړ چه‌یعقو بعلیخان سفیر ته‌یې نوره تو جه ونه کړه یعقوب علیخا ن را ولاړ شو اوسور جمل ته یی‌وویل: « ته اوس په دغه فرمایش بوخت یې زه به‌بیاستا دفراغت په وخت کښی را شم »

سور جمل جواب ور کړ :«نـواب صاحب ! که د روغی له‌پاره راځې خو مه راځه» یعـقوبعلیخان تردې جوا ب و ر و سته ډ هلی ته‌راستون‌شو-د دغه کال‌یای ته یعنی‌څه وخت پس چه‌ډهلی ته‌تردې سور جمل جاټ دسید محمد خان بلوڅ له لاسه‌وواژه شو اولاش یی نجیب الدوله ته بنکاره شو یعقوب علیخان هم حاضروء دسوز جمل جا ټ دلاس ناسور اودهغه چیټ لستونی‌یی وپیژ انداو نجیب الدوله ته‌یی دسورجمل دمرګ خاو ر کړ (٢)

(١) - د ا حمد شاه د رانی ٢٨٧ مخ

(٢)صوت افغانی٢٠٧ مخ دمخزن‌التواریخ په حواله-تاریخ هندوستان نهم توك ٣٧١مخ.

په۱۱۸۱ه ق کال چه‌لوی احمد شاه بابا اتمه پلا هندوستان ته ورغی او په اسماعیل اباد کښې یې چه دانبالې جنوبی لورته شل میله لیری واقع دی واړول نواب یعقوب علی‌خان دنجیب‌الدوله دو کیل په‌حیث ،لوی احمدشاه باباپه حضور مشرف‌شو (۱).

تر۱۱۸۱ه ق کال وروسته‌د نواب محسن‌الملک معتمدالدوله یعقوب‌علی‌خان بامیزی ذکر کوم ځای نه‌دی لیدل شوی .البته په۱۲۰۲ ه ق کال دډهلی‌دپاچا شاه عالم مغل(۱۱۷۳ــ ۱۲۲۱ ه ق )دړندلوپه واقعه کښې دیوه‌یعقوب علیخان ذکر سته چه‌د نجیب‌الدوله یوسفزی‌دلمسی اوضابط خان‌یوسفزی دزوی غلام‌قادر روهیله له خوا وژل شوی دی ( ۲) مګردامحققه‌نده چه‌دغه یعقوب‌علی خان‌دی نواب محسن الملک معتمد الد و له‌یعقوب علیخان بامیزی وی (؟) .

اوهم درامپور دنواب غلام‌محمدخان ماینه چه دیعقوب علیخان لوربنودل شوی ده(۳) معلومه نده‌چه‌دغه نواب محسن‌الملک یعقوبعلیخان لور وه او که دنواب غلام‌محمدخان د ا کا یعقوب علیخان لورده (؟).

پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی
پرتال جامع علوم انسانی

(۱) داحمدشاه درانی ۳۱۶ مخ . (۲) .تاریخ هندوستان ۹ ټول ۲٤۱مخ .
(۳) اخبارالصنادید دوهم ټوک.